ځانته خلک مخکې شول

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم د مکې په لاره روان و چې د جمدان نومې غره سره تېرېده نو ويې فرمايل: «سِيرُوا هَذَا جُمْدَانُ، سَبَقَ الْمُفَرِّدُونَ» قَالُوا: وَمَا الْمُفَرِّدُونَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «الذَّاكِرُونَ اللهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتُ». « لاړ شئ دا جمدان دی، ځانته خلک مخکې شول» هغوی وويل چې: ځانته خلک څوک دي اې د الله رسوله! ويې فرمايل: هغه نارينه او ښځې چې الله تعالى ډېر يادوي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو کسانو مرتبه بيان کړه چې الله جل جلاله په کثرت سره يادوي او دا چې هغوی د نعمتونو په جنتونو کې د لوړو مرتبو په ګټلو سره له نورو جلا شوي او مخکې شوي دي، دوی يې د جمدان له غره سره تشبيه کړل، چې له نورو غرونو څخه جلا شوی دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3719

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee